مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ
۲۰۲۳/۰۵/۱۶

# د جمهوریت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه
(لومړی برخه)

**د افغان انتقالي حکومت جوړښت او په کابل کې د جمعیت ډلې جنایات**

د افغانستان جمهوري حکومت له آره ضعیف رامنځ ته شوی ؤ، د دې پر ځای چې ورځ تر بلې ځواکمن شي، لاپسې کمزوری کېده، امریکایانو د انګرېزانو په څېر له هغې پالیسی چې وایي (ببل یې کړه، اېل یې کړه!) کار واخیست، دوی نه غوښتل چې د پاکستان پر وړاندې په افغانستان کې یو ځواکمن حکومت شتون ولري، ښایي امریکا له پاکستان سره ژمنه کړې وي چې په افغانستان کې به ځواکمن حکومت نه رامنځ کوي.
وروسته له هغې چې حامد کرزی د ولسمشر په توګه وټاکل شو، د خپلې واکمنۍ پر مهال له ډېرو سختو کړونیو او بهرنیو ننګونو سره مخ ؤ چې ځینې مهم کورني مشکلات د امریکا د (سي، ای، اې) له خوا په لوی لاس رامنځ ته شوي وو، هغه مهال چې امریکایي ځواکونو د (سي، ای، اې) د لسو افغان ګروپونو د مشرانو، په ځانګړې توګه د شمالي ټلوالې په همکارۍ افغانستان اشغال کړ نو خپلو ګوډاګیو جنګسالارانو ته یې په ولایتونو کې واکونه ورکړل، د دغو لسو ډلو نومونه چې د (سي، ای، اې) لخوا په ولایتونو کې له طالبانو سره د جګړې په موخه استخدام شوي وو په دې توګه دي:

۱ـ د پنجشېر، کاپیسا، پروان، تخار، مزار شریف، کندز او هرات په ولایتونو کې د جمعیت ډلې بېلابېل جنګسالاران هر یو: ملا قسیم فهیم، محمد یونس قانوني، ډاکټر عبدالله، احمد ضیاء مسعود، جنرال بسم الله خان، انجنیر عارف، جنرال داؤد او نور.
۲ـ د هرات په ولایت کې اسماعیل خان.
۳ـ مزار شریف کې عطا محمد نور.
۴ـ بامیانو کې عبدالکریم خلیلي.
۵ـ شبرغان او فاریاب کې جنرال دوستم.
۶ـ ارزګان کې حامد کرزی.
۷ـ کندهار کې ګل آغا شېرزی.
۸ـ خوست کې پاچا خان ځدراڼ. ۹
ـ ننګرهار کې حضرت علي، حاجي زمان، عبدالحق، ظاهر قدیر.
۱۰ـ په (؟) کې جنرال عبدالرحیم وردګ او نور.

له دغو پخوانیو مجاهدینو سره د امریکایي ځواکونو ځانګړي ټیمونه (سپېشل فورس) مله وو چې د هر ټیم د سرتېرو شمېره یې له ۹ تر ۱۲ تنو پورې رسېدله، له حامد کرزي پرته نور ټول هغه جګړه ماران وو چې د افغانانو پر وینو یې لاسونه ککړ وو، په دغو کسانو کې پرته له جنرال دوستم څخه نور ټول د جهادي تنظیمونو قوماندانان وو، (سره له دې چې جنرال دوستم ته د مجاهدینو د حکومت لومړي ولسمشر صبغت الله مجددي د ستر مجاهد (مجاهد کبیر) ستاینوم ورکړی ؤ.)
د جنرال دوستم په ګډون دوی ټول د پیسو او واک ته د رسیدلو په موخه له امریکایي ځواکونو سره اوږه په اوږه ولاړ وو، دا مهال د کفر او اسلام تر منځ کوم حد نه ؤ پاتې شوی، لکه څه ډول چې همدغو مجاهدینو؟! د کفر او اسلام په نوم په نویمو کلونو کې ډېر افغانان وژلي او هېواد یې لوټې، لوټې کړی ؤ، هغه لویې، لویې زېرې چې دغو جهادي ټیکه دارانو اوړدې کړې وې، د امریکایانو په راتګ سره په فرانسویو زېرو بدلې شوې او ځینو خو له بېخه وخرېلې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغاني کاليو پر ځای يې دريشی واغوستلې او نېکټايۍ يې وتړلې، سمدم يې ځانونه د اروپايانو په څېر جوړ کړل، دوی د وخت زامن وو، د هر چا ډول ته نڅيدل.

د امريکا ځارګرې اداري په دغو مجاهدينو باندې د ډالرو بارانونه وکړل، ډېر زيات ډالر يې ورکړل. دا مجاهدين چې له يوې خوا د ډالرو زور ؤ، له بلې خوا واک ته د رسيدلو په ارمان کې وو، په دې موخه يې د زړه له کومې، ښه په اخلاص له طالبانو سره جګړې وکړې چې په پای کې بريالي شول. يوازې عبدالحق د طالبانو لخوا ونيول شو او بيا ووژل شو، د نورو ټولو ارمانونه پوره شول هر يو په خپله سيمه کې خپلواک پاچا شو او په کابل کې يې د ولسمشر حامد کرزي اطاعت نه کاوه، د کرزي پر ځای يې له ځايي امريکايانو اطاعت منلی ؤ.

په هېواد کې د امريکا له خوا د استخدام شويو قوماندانانو تر منځ د ښارونو د لاندې کولو پر سر جګړې او مسابقې رواني وې، په شمال کې عطا محمد نور د مزار ښار او د (دِهِ دادي) هوايي ډګر ونيول. دوستم د عطا نور په کيسه کې نه شو، خپل يو نيم زر جنګيالي يې مزار شريف ته ننه اېستل او خپله پخوانۍ قرارګاه (قلعه جنګي) يې ونيوله. (علي احمد جلالي: د افغانستان نظامي تاريخ؛ ژباړن: متقاعد سترجنرال شېر محمد کريمي ۵۱۳مخ)

د بغلان په ولايت کې د اسماعليه فرقې کسانو د سعيد کيهان په مشرۍ د پلخمري ولسوالۍ د نيولو پر موخه بريد وکړ چې د شمال د متحدې جبهې له خوا په شاه وتمبول شول او د اسماعيله ډلې مشر سعيد کيهان يې ژوندی ونيو، نږدې تر (۲۲۲) تنو پورې ووژل شول. (د، دسمبر ۳۰/ ۲۰۰۱ز)

په کندهار کې هغه مهال چې د طالبانو لوړپوړو چارواکو حامد کرزي ته د تسليمدو ليک وړاندې کړ نو حامد کرزي ملا نقيب الله چې د حامد کرزي د نوي حکومت او طالبانو تر منځ يې منځګړيتوب کاوه، د کندهار والي وټاکه خو امريکايانو او ګل آغا شېرزي يې پر وړاندې کلک غبرګون ښکاره کړ او د کندهار په ښار کې وسله واله جګړه پيل شوه، ګل آغا شېرزي غوښتل د کندهار واک تر لاسه کړي چې همداسې وشول، د امريکايانو په مرسته يې د کندهار ولايت ترلاسه او ملا نقيب الله يې ګوښه کړ.



دا مهال په کابل کې د جمعيت ډلې مشر (چې ځيني خلک يې د جنايت ډله بولي) برهان الدين رباني بيا په څوکۍ پورې نښتی ؤ«... د شمالي ټلوالي مشر رباني [د جرمني د بُن په غونډه کې] خپل استازي ګروپ ته ښوونه وکړه چې په تخنيکي خبرو کې ګډون ونه کړي او په لنډمهاله اداره کې د [خپلو] استازو نومونه هم ورنه کړي. ده په ډاګه اعلان وکړ چې په افغانستان کې دې دننه د مؤقت حکومت لپاره مستقيم انتخابات وشي او په دې هکله د بُن پرېکړې د منلو وړ نه دي. ده د شمالي ټلوالي استازو ته ښوونه وکړه چې کابل ته راستانه شي چې خپل منځي بحثونه وشي. رباني د افغانستان په شمال ختيځ کې د يوې ډېرې کوچنی تراړې مشر ؤ چې ځواکونه يې دلته لا طالبانو کونج ته کړي وو، دی له دغه ځايه مخامخ کابل ته پراشوټي راغلی ؤ، رباني د متحده ايالاتو په مشرۍ د نړيوال ايتلاف د متو په زور کابل ته راوړل شوی ؤ، ده نه غوښتل واک هغه مؤقت حکومت ته وسپاري چې په بُن کې جوړېده. د دغې خند اچونې په پايله کې نږدې ؤ چې د بُن کنفرانس ناکام شي، په دې هکله نړيوال فشار زيات شو او د مؤقت حکومت جوړېدل يې لازمي کړل چې بل بديل يې نه درلود.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

په بُن کي د افغانستان لپاره د امریکا سفیر (جمیز ډابنز) په یوه مطبوعاتي کنفرانس کي په ډاګه وویل: که د بن کنفرانس ناکام شي لامل به یې رباني وي، ځکه دی د کنفرانس په مخ کي خنډ شوی دی. نړیوالي ټولني څو ځلي کابل ته پیغامونه واستول چي شخړه راکمه کړي، په دې پیغامونو کي د روسیې له خوا شمالي ټلوالي ته کلکه ګوتڅنډنه هم شوي وه، روسانو وویل: که رباني تر سبا سهار پوري خپلو استازو ته د خبرو د دوام لپاره لارښوونه ونه کړي او د خپلو نوماندانو لېست کنفرانس ته ونه سپاري نو روسیه به نور له دوی سره هېڅ مرستي ونه کړي.» (هماغه کتاب. ۵۳۵مخ)

افغان توکمه امریکایی، زلمی خلیل زاد چي په افغانستان کي د امریکا د متحده ایالاتو د ولسمشر جورج بوش ځانګړی استازی ؤ، رباني ته ګوتڅنډنه وکړه چي که واک پرې نږدې د بُن د کنفرانس له پیل وړاندې به سوله ساتي ځواکونه له شمالي ټلوالي څخه کابل په زور ونیسي.

خلیل زاد وایي: ما له هرې لارې پر رباني زور راوړ چي واک خوشې کړي.


(برهان الدین رباني)

رباني وپوښتل: آیا تاسي به په رښتیا دا کار وکړئ؟

ما ځواب ورکړ: ډاډه اوسئ!

په پای کي امریکایانو د رباني له کور سره نږدې یو توغندي وویشت چي رباني یې وډار کړ او له واکه ګوښه شو، په دې اړه خلیل زاد لیکي:«... له نېکه مرغه یوې امریکایي الوتکي زموږ له خبرو یوه ورځ وروسته په تصادفي توګه د رباني کور ته نږدې راکټ توغولی ؤ، چا ته زیان نه ؤ رسیدلی خو رباني پوه شو چي موږ زېګنال وراستولی دی.» (زلمی خلیل زاد:استازی...:ژباړن:لطف الله لطف. ۱۶۰مخ)

په پای کي د بُن په ناسته کي له ۲۹ وزارتونو څخه ۱۶یې شمالي ټلوالي ونیول او ۱۱ یې پښتنو ته ورکړای شول.

د حامد کرزي د لنډ مهالي اداري پر مهال جنګسالاران، په ځانګړي توګه د جمعیت لنډغرو (چي ځانونو یې بدماشان بلل) په کابل کي د حامد کرزي پر وړاندې ډول، ډول بې نظمی او بدماشي پیل کړې، دغو بدماشانو په ۲۰۰۲ز، کال کي په بېړنی لویه جرګه کي، ګوډ بدماش یونس قانوني (چي تخلص یې سرچپه دی) د کورینو چارو وزارت څخه ګوښه کړای شو او «کرزي هغه د پوهني وزارت، د وزیر په توګه اعلان کړ، ویې ویل چي قانوني د پوهني وزارت دنده ومنله، قانوني په غوسه ؤ، هڅه یې وکړه له څوکۍ پورته شي او پر کرزي فزیکي برید وکړي، له نېکه مرغه عبدالله یې په څنګ کي ناست ؤ، د قانوني له کاره لویدلي [ګوډې] پښي د نوموړي حرکت ټکنی کړی ؤ، د قانوني فزیکي نیمګړتیا عبدالله د دې جوګه کړ چي له لاسونو یې ونیسي او پر خپله څوکۍ یې کېنوي، په خپله څوکۍ کي راګیر قانوني کرزي ته سپکي سپورې وویلې، د نوموړي د [ملي] جامو سپکاوی یې وکړ، د افغانستان د سپکاوي لامل یې وباله او زیاته یې کړه چي کرزی د شمالي ټلوالي له ملاتړ پرته هېڅ ارزښت نه لري.»

خلیل زاد لیکي:«قانوني په چټکی زما لور ته راغی او راته یې وویل: تاسي فکر کوئ چي فهیم بدماش دی؟ ما ته یې ګوتڅنډنه وکړه ویې ویل: زه به تاسي ته څرګنده کړم چي اصلي بدماش څوک دی... .»

خلیل زاد وایي:«ما قانوني ته اخطار ورکړ چي له سربیتوبه کار واخله، ته فکر کوې چي زه کمزوری یم؟ که هر ډول ګام پورته کوې پایلي به یې ستاسي پر غاړه وي. راتلونکی ورځ په کابل کي د حتمي کودتا آوازې خپرې شوي وې، قانوني چي تر اوسه د تاجک پلوه، کورینو چارو وزارت له وفاداری څخه برخمن ؤ، امنیتي ځواکونو ته یې امر کړی ؤ چي د ښار سرکونه بند کړي، په لاسي بمونو سمبال عسکر او پولیس له وزارت څخه چاپېر ولاړ وو او وزارت ته یې د کورنیو چارو د نوي وزیر، تاج محمد وردګ د ورتګ مخ نیوی کاوه.» (هماغه کتاب. ۱۸۹مخ)

د جمعیت ډلي جنایتکارانو په کابل کي امنیتي وضعیت ګډوډ کړی ؤ، ځانځاني وژني، تېښتوني، شوکي او خپل سری راوني وې،«په ۲۰۰۲ز، کال کي د کرزي د لنډ مهالي اداري د هوایي چلند او ترانسپورټ وزیر ډاکټر عبدالرحمن د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کابل په هوایي ډګر کې تر مرګوني برید لاندې راغی، کرزي شک درلود چې ډاکټر عبدالرحمن شمالي ټلوالي د غچ اخیستنې له امله وژلی دی، څکه نوموړي له شمالي ټلوالي [څخه جلا شوی ؤ] او مخالفت یې ورسره درلود. د جولای په میاشت کې د کرزي د لنډ مهالي اداري مرستیال ولسمشر او د ټول کټو چارو وزیر حاجي قدیر د سړک پر سر ترور شو.» (هماغه کتاب.۱۷۲مخ)



(ډاکټر عبدالرحمن او حاجي عبدالظاهر قدیر)

د حاجي عبدالظاهر قدیر د وژلو په اړه بهرنیو او کورنیو منابعو پنجشیري جګړماران، په ځانګړي توګه قسیم فهیم ته ګوته نیوله، د امریکا د ولسمشر جورج بوش له وینا چې د فهیم په اړه یې خلیل زاد ته کړي وه (چې ښایي فهیم کرزی ترور کړي) داسې ښکاري حاجي قدیر د همدغو شمالي جګړه مارانو له خوا وژل شوی وي. وروسته له دغو وژنو، جورج بوش په اندېښنه کې ؤ چې کېدای شي شمالي ټلواله حامد کرزی هم ترور کړي، د ۲۰۰۲ز، کال د جولای په میاشت کې جورج بوش له خلیل زاد وپوښتل:«آیا تاسي فکر نه کوئ چې فهیم به کرزی ووژني؟»

خلیل زاد لیکي:«ما ټکان وخوړ، فهیم هغه مهال د کرزي لومړی مرستیال او دفاع وزیر ؤ، هغه او کسان یې د کرزي ساتونکي وو... د بوش د ټینګار له امله کرزي د پنځوسو امریکایي ځانګړو ځواکونو پرسونل ومانه.» (هماغه کتاب.۱۷۲-۱۷۳مخونه)

په کابل کې چې حامد کرزی بې ځواکه ولسمشر او شمالي ټلوالي تر اغېز لاندې ؤ، له پنجشېریانو سره یې له ناچارۍ، د دې لپاره چې د ټلوالي بدماشان خوشاله وساتي څو ځلې پنجشېر ته د احمد شاه مسعود مړیستون ته ولاړ او د پنجشېریانو په غوښتنه یې د پنجشېر علاقه داري د اصولو پر خلاف په ولایت بدله کړه، د پنجشیریانو پوځي قوماندان قسیم فهیم چې په اصل کې یو ملا ؤ، د هغه په غوښتنه او د جمعیت ګوند په ټینګار یې د مارشالۍ رتبه هم ورکړه، په داسې حال کې چې په ۱۳۷۵ل. ل، کال له کابله پنجشېر ته په تېښته بریالی شوی ؤ خو اوس یې د امریکایانو په زور کابل لاندې کړی او د دفاع وزیر په توګه ناست ؤ.

دا مهال د ټلوالي ډېر شمېر بې سواده او نامسلکي کسانو ته نظامي رتبې ورکړای شوې، له برید جنرالۍ نیولې تر ستر جنرال پورې رتبې ووېشل شوې، تر دې چې خورد ضابطان ډګروالان شول او مطلق بې سوادان ضابطان شول، هغه د سقاؤ د دوران په څېر په یوه شپه کې د ښوونځي شاګردان ډګروالان شول، په دې اړه په کابل کې یو بنګالي معلم، سید مجتبی علي چې د اماني دورې د سقوط او د سقاؤ د زوی حالات یې په خپلو سترګو لیدلي دي داسې لیکي: «...
په لاره کې د غلو له یوې بلې ډلې سره مخ شوم، په دوی کې یو تن ښي جامې اغوستې وې، پر ده چې مې سترګې ولګېدې ډېر دار مې ختم شو چې رانږدې شول دغه افسر راته اشنا غوندې ښکاره شو، هو! څو ورځې مخکې دی زما شاګرد ؤ، دی ډېر زیات کم عقل ؤ، هره ورځ به مې پرې غوږونه تاوول.
دا چې مې رایاد شول، یو ځل مې په خیال کې سر ته اته ټوپکونه ولاړ وو، ښې خوا ته یوه کوڅه وه لنډ ورتاؤ شوم، لکه یو ګوډي پران [پتنګ] چې له کنټروله ووځي، زه ربنتیا هم له یوې ستونزې سره مخ وم، ده که خپل غچ اخیستلای نو که وژلی یې نه وای سپکولم خو یې خامخا... .
شا ته مې د پوځي بوټانو غږونه واورېدل، ژر، ژر راروان وو، یا خدایه، یا مؤلا علي ټول رایسي وو، آن هغه ښي جامي یې چې اغوستي وې هغه هم ورسره ؤ. مخ مې وروګرځاوه، ځوان مشر یې ناري ووهلې:«معلم صاحب! معلم صاحب!» رانږدې شو، د عبدالرحمن غوندې یې زما لاسونه ونیول ښکل یې کړل، ښکل یې کړل او پسې ښکل یې کړل. زما د حال پوښتنه یې وکړه، بیا یې لکه یو سپین ږیری داسې ورتلم چې په دغسې خطرناک حالت کې ولې له کوره راوتلی یې. ما بس یوازې همدومره ورته ویل:«هو، هو، بالکل، بالکل، د خدای فضل دی، د خدای فضل دی،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ډېره بده خبره ده، ډېره بده خبره ده.» له خپلي وېري د راوتلو لپاره مي دغه کلمي په سمو او ناسمو ځايونو کي کارولي.
لومړۍ وېره مي چي ختمه شوه، نو يو څه بېباکه شوم ومي پوښتل: زما بچيه دغه يونيفورم دي له کومه کړ!؟
ده د بابرشاهی غره غوندي سينه راوايستله په وياړ يې وويل:**«کرنيل شدم!»**
يه خدايه هلک په نولس کلنی کي ډګروال شوی ؤ! بيا مي بېباکي وکړه ومي ويل: ښه نو تر جنرالی پوري درته څومره لاره پاتي ده؟
ښه په جدي انداز يې وويل: دور نيست!
خدای لوی دی! د ځينو خلکو په اړو دوړ کي مزې وي.
تازه ډګروال راته خبره روښانه کړه: امير حبيب الله کلکاني زما د نيکه د تره زوی دی! د دوی توت ته زموږ توری ختلی دی!
په پای کي سيد مجتبی علي ليکي: نه پوهېږم چي دقيقاً له حبيب الله کلکاني سره يې څه خپلوي درلوده... زما شاګرد په يوه شپه کي ډګروال شوی دی. (سيد مجتبی علي: په يو بل وطن کي؛ ژباړن: نورالحق حيدر؛ ۳۰۹-۳۱۰مخونه)
حامد کرزی چي د جګړه مارو له رنګارنګ جنايتونو تر ستوني رسيدلی ؤ، پر ټلويزيون راڅرګند شو، د جمعيت بدماشانو ته يې په ډاګه وويل:**«... دا مو څه حال جوړ کړی دی، دوه طالبان درپسي راغلل تر کولاب او ايران پوري يې پسي واخيستی، اوس چي د امريکايانو د بمباريو پر زور راغلي ياست... .»**
حامد کرزی د شمالي ټلوالي د شرارتونو له امله اړ شو د خپلو مشاورينو له مشورو وروسته بهرني ساتونکي ومني خو «حامد کرزی له دې چي ساتونکي يې امريکايان دي ډېر زوريده او کله چي د ولسمشر د ساتني مسؤليت افغان ځانګړو کسانو ته وسپارل شو، نو کرزی روحاً آرام شو.» (ډاکتر رنګين دادفر سپنتا: سياست افغانستان، روايت از درون. ۲۱۷مخ)

يوه ورځ موږ په ارګ کي د ولسمشر له فرهنګي مشاور سره ليدنه درلودله، د ولسمشر بهرنيو ساتونکو د تلاشۍ پر مهال ښه وپلټلو، دا مهال د ولسمشر د جومات امام چي يو دري ژبی ملا ؤ، ويې ويل: ولسمشر ته مي شکايت وکړ چي امريکايي ساتونکي ما په خپلو سپيو پلټي چي د لمانځه کالي مي ناولي کيږي. هغه زياته کړه چي ولسمشر په دې خبره ډېر خواشينی شو.

نېټه:۱۴۰۲/۲/۲۶ل. ل

**نوربيا**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ